# د حزب الله افغانستان

# مرامنامه

دحزب الله افغانستان خپرونه

## دکتاب پيژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د حزب الله افغانستان مرامنامه |
| تيراژ: | ۱۰۰۰۰ |
| دچاپ نوبت: | لومړي ځل |
| د چاپ ځای | |


بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا

(الـ نـ ساءـ ۵۸)

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ

(آل عمران- ۸۵)

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

(سوره انعام ۱۶۲)

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

(النساء ۶۵)

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ

(طه ۱۲۴)

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ أُولَٰئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

(التوبه۷۱)

أَنْ يُرِيدُونَ قَبْلِكَ مِنْ أُنْزِلَ وَمَا إِلَيْكَ أُنْزِلَ بِمَا آمَنُوا أَنَّهُمْ يَزْعُمُونَ الَّذِينَ إِلَى تَرَ أَلَمْ ضَلَالًا يُضِلَّهُمْ أَنْ الشَّيْطَانُ وَيُرِيدُ بِهِ يَكْفُرُوا أَنْ أُمِرُوا وَقَدْ الطَّاغُوتِ إِلَى مُوايَتَحَاكَ بَعِيدًا

(النساء ۶۰)

## بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله والصلوه والسلام علی رسول الله محمد و آله
وا صحابه اجمعین

# سریزه

حزب الله افغانستان یوه داسی اصولی ډله ده، چی غواړی د انسانی ژوندون د سمون او لاربښوونی په باب هغه پراخه تګلاره چی اسلام وړاندی کړی له څه زیاتوالی او کمښت پر ته په پوره ډول عملی کړی .

دا حزب عقیده لری چی: د انسانی ژوندانه د ټولو بد مر غیو او کړا وو نو د حل یواځینی لار د سپیڅلی اسلامی نظام تطبیق او تحکیم دی
ترڅو چی د مسلمانانو په ټولنیز ژواندانه کی اسلامی شریعت
نافذ شوی نه وی،مسلمانان به تل په ستونزو او مشکلاتو کی را ګیروی، پر مختګ او لو ړتیا ته به یی په هیڅ صورت رسیدل امکان ونه لر ي.

ګڼی تاریخی تجربی پر دی ګواهی ورکوی،هر کله چی د بشری ژوندانه په کوم اړخ کی فساد او ورانی خپور شوی ،د دغو ګډوډیو په خپراوی کی لاندی بنسټیزو لاملو نو مهم رول لو بولی دی :

▪ د الله ج د احکامو له مننی سر غړاوی.

▪ د پیغمبرانو علیهم الصلاه و السلام لاربنوونی د ژوندانه د نظام بنسټ ګرځیدلی نه دی.

▪ انسانانو د قیامت د ورځی د حساب،کتاب،احساس له لاسه ورکړی.

په هره انسانی ټولنه کی چی د ژوندانه محورد اسلامی اصولو پر ځای د زور او واک د خاوندانو د هیلو او غوښتنو پر بنسټ ځرخیدلی،هلته هرو مرو د انصاف او عدالت ځای ظلم او تیری ته خالی شوی دی.
تر څوچی د الله جل جلاله اطاعت او د رسولانو علیهم الصلاه

و السلام لار ښوونی د بشری ژوندانه اساس او بنسټ ونه ګرځی،دانصاف او عدالت را منځته کیدل نا شونی دی،له دی اصولی بنسټو نو پر ته که د هری عقیدی او مفکوری له مخی د عدالت او انصاف د رامنځته کولو هڅی وشی، خامخا به د یوه نوی ظلم او تیری په بڼه را څرګندیږی.
که څه هم زموږ په ګران هیواد کی په دی اصولوباندی عقیده لرونکی و ګړی قاطع اکثریت لری، خو کومه عقیده او نظام چی دوی یی منی، په عملی توګه نافذ شوی نه دی او د ژوندانه ټول نظام یی له عقید وی بنسټو نو سره سم قایم شوی نه دی. همدالامل دی چی زموږ مسلمان هیواد وال د اسلامی نظام د مبارک سیوری له نعمتو نو بی بر خی دی، چی نه پخپله د

اسلامی نظام له نعمتو نو ګټه اخیستی شی او نه په دی باب له نړیوالو سره مرسته کولای شی.

دا حزب راپورته شوی، چی د مسلمانانو په ژوندانه کی د اسلامی نظام ټول ارزښستونه پیاده او عملی کړی، د دی نهضت اصولی اهداف د اسلامی فکر خپر اوی او په نوی او زاړه شکل د فحاشی، بی لاریتوب او ورانکاری مخنیوی دی، خو دا حزب په دی عقیده لری، ترڅو چی حکومت او واکمنان اصلاح نه شی د اصلاحی پروګرامونو وده ممکنه نه ده

د اصلاحی پروګرامونو په مخ کی تل فاسد حکومتونه خنډ کیږی د فساد او بی لاریتوب د ټولو عواملو ملا تړی وی. د حاکمه نظام له اصلاح پر ته فردی اصلاحی سستونز منه ده او په ټولنه کی د عدل او انصاف قایمیدل امکان نه لری، حزب الله افغانستان به خپل ممکن و سایل دا ساسی قانون په چوکاټ کی په کار اچوی، ترڅو خپل مسلمان ولسونه د الهی لار ښوونی سره سم پر سمه لار روان کړی.

د دی حزب احداف په لنډه توګه په لاندی ډول دی:

۱.د اسلامی اصولو متابعت او پابندی، د راشده خلفا و د کارنامو پیروی او د اسلامی لارښوونو د پوره عملی کو لو په لوری بلنه

۲.د ظلم، ناروا، استثمار او اخلاقی فساد چی په هره بڼه وی، له منځه وړل، د اسلامی اصولو پر بنسټ د ټولنیز ژوندانه تنظیمول او د ژوند په ټولو اړخونو کی د عدل قایمول.

۳.هر ډول نیکیو ته وده ورکول او د بدیو له ټولو ډولونو سره مقابله.
۴.د حاکم نظام محور د خلکو خدمت ګرځول او د قانون، اصولو او مقرراتو حاکمیت تثبیتول.

۵.د وګړو اسلامی فکر، احساساتو، عواطفو او شعا یرو ته پا ملرنه او وده ورکول.
۶.دملګرو ملتونواودنړی والی بشری ټولنی اداری ته د اسلامی اصولو په رڼا کی احترام.

۷.د ښځوحقوقو ته د اسلامی اصولو او مقر راتو سره سم احترام.

۸.د اسلامی فکر د خپر اوی او پر اختیاله پاره د کلمة الله د لوړ اوی په خاطر نه ستړی کیدونکی هلی ځلی او زیار ګالل.

ومن الله التوفیق

# عمومیات

۱.دا یو منلی حقیقت دی چی، افغانستان یو داسی اسلامی هیواد دی، چی د مسلمانانو د وینو په بیه جوړ شوی او د ساتنی له پاره یی په زرونو مجاهدینو سرښندنی کړی دی، هره سیاسی ټولنه چی و غواړی په دی خاوره کی د اسلام د مبارک دین پر ضد عقاید و خپراوی وکړی او د تطبیق له پاره یی هڅی کوی، دابه په واقعیت کی د افغانستان د موجودیت دله منځه وړلوکوښښونه وی، موږ به دیو اسلامی تحرک په حیث د دا ډول عیر اسلامی فعالیتونو په کلکه مخنیوی کوو.

۲.د افغانستان د اساسی قانون له۵پنځمی مادی سره سم د افغانستان خپلواکی، ملی یو والی او د ځمکنی تمامیت ساتل د دی تحریک مهمه وجیبه ده.

ټول هغه تحریکونه چی د دی هیواد د تجزیی له پاره ژبنی، سیمه ییز، نژادی او پاټکیزی (طبقاتی) کرکی راپاروی، زموږله کلکی مقابلی سره به مخ شی، زموږ له نظره دی هیواد د ټولو او سیدونکیو سلامتیا، خپلواکی اواغیزمن شته والی هله تر سره کیدای شی،چی په ملت کی د پوره یووالی او ورور ګلوی احساس راژوندی او یو داسی عادلانه نظام قایم شی، چی د هغی تر سیوری لاندی ټول ولس له کوم ژبنی، نژادی، سیمه ییز او طبقاتی تو پیر پر ته په پوره ډاډ سره ژوند وکړی، له الله جل جلاله نه ډار او دا لهی قانون بشپړ پر ځان منل د بر تری یوا زینی معیار وګنل شی.

۳.زموږ په اندپه افغانستان کی تر هغو پوری یو سم او مستحکم نظام قایمیدای نه شی، تر څو دی لاندی ټکیوته پو پوره اخلاص او ایمانداری پاملرنه شوی نه وی:

الف: څرنګه چی د دی هیواد قاطع اکثریت د اسلامی نظام د ټینګښت او عملی کیدو غوښتنه کوی، باید د دی نظام حاکمیت په عملی توګ و منلای شی، که څوک له دی حقیقت سره موافق نه وی او په هیواد کی د کوم غیر اسلامی نظام د واکمنی له پاره هڅی کوی داسی کسان د افغانستان د مسلمان ولس واقعی غلیمان دی، له داسی ډلوټپلو سره په کلکه مبارزه د هر مسلمان وګړی ایمانی وجیبه ده.

ب: افغانستان د ټولو افغانانو دګډ کور په حیث د کومی ځانګړی کورنی ملکیت نه دی، نو هیڅوک حق نه لری، چی د کوم استبدادی او مطلق العنان رژیم د ټینګښت او استحکام له پاره هڅی وکړی، او حکومت کول دځان له پاره ځانګړی میراثی حق و ګڼی.

ج:د هیواد سیاسی زعامت باید د ولس د رښتینو استازیو د لار ښوونو په اساس له اسلامی اصولو سره سم د چارو واګی په لاس کی واخلی، هغه سیاسی مشران چی د ملت د استازیو باورله ځان سره نه لری او د شرعی احکامو په بنا د دولت د چارو سمبالول ورتر غاړی شوی نه وی، نه شی کولای چی د کورنیو شخړو او ګډوډ یو مخه ونیسی او د وطن د پر مختګ او لوړتیا په باب ګټور ګامونه او چت کړی.

د:هر مسلمان او افغان حق لری چی په قانونی لارو د خپلی رایی او نظر څرگند ونه وکړی، پردی حق بندیز لگول خلک د واک او اقتدار دلاسته راوړلو نورو لاروته مجبوروی، چی په مسلمه تو گه ملت ته په درانه قیمت تما میږی.

ه. د داسی سیاسی ډلو ټپلو د هڅو په کلکه مخه نیول، چی د افغانستان اسلامی حیثیت نه منی او دکوم غیر اسلامی نظام رامنځته کول غواړی او یا د افغانستان د سلامتیا او ملی یووالی مخالفت کوی.

و: دا حزب دیوه ټولنیز ژوندانه د جوړښت له پاره هڅه کوی، او د ژوند په بیلا بیلو اړخونو کی لاندی ارزښتونه، اصول او پروگرامونه لری:

# لومړی فصل

د قانون په بر خه کی:-

۱.عظیم الشان قرآن او نبوی مبارک احادیث به په وا ضح او څرگندو الفاظو د قانون لو مړنی ماخذ وی او په اجتهادی مسایلو کی به له حنفی فقهی سره سم عمل کیږی.

۲.قضاییه قوی ته به پوره صلاحیت ورکول کیږی او له هر ډول اغیز او فشار نه به آزاده وی، د امنصب به یواځی هغو علما و ته ورکول کیږی چی په پوره تقوی او د یانت مشهور وی.

۳.هڅه به کیږی چی د زنا، شراب خوړلو، جواری، فحاشی او اخلاقی فساد مخنیوی وشی او اخلاق فاسدوونکی فلمونه کتابونه، مجلی او رسالی به بندی وی.

۴.د ښځو شر عی حجاب به منځته راځی او د هغوی شرعی حقوق به په قانونی توګه ورکول کیږی.

۵.هڅه به کیږی چی له اسلامی اصولو سره سم د خلکو د ټولنیز ژوند داصلاح او سمون له پاره عملی ګامونه واخیستل شی.

۶.د عسکری او کودتایی حکومتونو مخه به د تل له پاره نیول کیږی.

۷.نظامی محاکمی به په کامله توګه لغوه کیږی او د عسکری منصبدارانو او نظامی افرادو محاکمات به هم یواځی د قضاییه قوی له لوری عملی کیږی.

۸.د آزادو ټاکنو له لاری به پارلمان منځته راځی، پارلمان به د هیواد له بادیانته افرادوڅخه متشکل وی.

۹.کومو خلکو ته چی حکومتی دندی سپارل کیږی، پر هغوی به ټینګار کیږی، چی په دیانت، ایمانداری او امانتداری سره خپلی دندی سرته ورسوی، په خپل شخصی ژوند کی به د اسلامی احکامو پابندی کوی، هغه مامورین چی د کوم غټ اسلامی جرم مرتکب شی، د هغوی په ترفیع او جرم ته په کتنه به له کاره ګوښه کیږی.

# دویم فصل

## مذهبی او اخلاقی اصلاحات:

موږ د ګران هیواد افغانستان د وګړیو د مذهبی او اخلاقی حالت د سمون او اصلاح له پاره لاندی پروګرامونه لرو:-

۱۰.د لمانځه د فریضی د ادا کولو له پاره به ټولی ممکنی لاری چاری په کار اچول کیږی، د دولت د مامورینو او کار کوونکیو له پاره به په دی برخه کی لازمی آسانتیا وی برابریږی او د رسمی دندو په پرتله به د مامورینو زیاته پاملرنه د دینی فرایضو ادا کولو ته اړول کیږی.

۱۱.د مبارکی روژی پر نیولو ټینګا راوله شرعی اصولو سره به یی اداب په پوره ډول ساتل کیږی.

۱۲.د حج د فریضی د ادا کولو له پاره به خلکو ته پوره آسانتیا وی برابریږی.

۱۳.د جوماتونو هغه اساسی نقش به چی د مسلمانانو په ټولنیز ژوندانه کی یی لاره، یوځل بیا راژوندی کیږی، او د جوماتونو د امامانو، خطیبانو او خادمانو د ژوند مناسب او ابرومند انتظام به نیول کیږی.

۱۴.د لوړو اسلامی زده کړو، عقایدو او احکامو د حاصلولوله پاره به ټول کو ښښنو نه کیږی، او هڅه به کیږی، چی لږترلږه هر مسلمان د دین له اړینو لارښوونو خبر شی، چی د یوه مسلمان په حیث د ژوند تیرولو له پاره د هغو پیژندل او زده کړه په کار ده.

۱۵.دینی مدارسو او دارالحفاظونو ته به په منظمه تو ګه پراختیا ورکول کیږی، چی د علماو او قاریانو په شه سویه روزنه د هیواد د ننه ترسره شی او د اسلامی علومو زده کړه په هر ولایت کی په وړیا ډول خلکو ته برابره شی.

۱۶.د ټولو قانونی لاروچاروله مخی به د حکومت پر ټولو وسایلو او ذرایعو کو ښښ کیږی، چی ټولنه له اخلاقی فساد او بدیو څخه پاکه کړی او هغه اسباب او وسایل له منځه یوسی چی په ولس کی د فساد او جرمونو د ودی لامل کیږی.

۱۷.د ولس د اخلاقی روزنی او ولسی دودونو د اصطلاح په لړ کی به په پراخه پیمانه داسی لاری چاری په کار اچول کیږی، چی په وسیله یی په خلکو کی د الله جل جلا له دویری، اطاعت او بندګی احساس راژوندی شی، خپل فرایض او مکلفیتو نه وپیژنی، او شرعی قانون ته د درناوی ولری په کی راویینی شی، او زموږ ټولنیز ژوند داخلاقو داسی یوی مرحلی ته ورسیږی، چی د ټولنیزو فرایضو اداء کول اوله بدیواوبد کاریو نه مخ اړول قانون، زور او ځواک ته اړتیا ونه لری.

۱۸.د جوماتونو بیا رغاونه، د دینی علما و او قاریانو روزنه او د امامت درنه دنده چاته ورسپارل او د امامانو د ژوندنیزو اړتیا پوره کول به د اوقافو مهمه دنده وی. د امام او موذن ژوندنیزی اړتیاوی د خلکو پر او ږو بارول د دین او اسلام سپکاوی ګڼل کیږی.

۱۹.دولت به مکلف وی، چی مرتد وګڼی له شریعت سره سم محاکمه او مجازات کړی.

۲۰.نا مسلمان اقلیتو نه به له شرعی احکا مو سره سم له خپلو روا حقو قو څخه بر خمن وی او په باب به یی شرعی حدود کا ملا مرا عات کیږی.

# دریم فصل

د فرهنګ، ښونی او روزنی اصلاحات:

موږپوهنی ته پاملرنه یو بنسټیز کار ګڼو او په دی باب لاندی پروګرامونه لرو:-

۲۱.د ښوونی او روزنی د ادارو د پروګرامونو او سنی حالت یو بیرته پاتی مشکل دی، دلته یواځی فنی وګړی تربیه او روزل کیږی، د زده کوونکیو اخلاقی، معنوی او دینی روزنی ته له سره پاملرنه نه کیږی، په او سنیو تعلیمی موسساتو کی په پراخه پیمانه فکری او ذهنی تشه موجوده ده، د دی خلا په شته والی کی هر پریوتی فکر په آسانی سره وده کولای شی.

ټول تعلیمی نظام به داسی برابریږی، چی دزده کړی له پیله ترپای پوری دا په نظر کی نیول شوی وی، چی تعلیمی موسسات ټولنی ته داسی فنی اشخاص وړاندی کړی، چی د خپل فن او مسلک ترڅنګ د اسلام پر ګاڼه هم سمبال شوی وی او د خپل ټاکلی فن ځانګړی دینی احکام یی هم زده وی. همدا ډول به په ټولو تعلیمی ادارو کی داسی دینی مضامین تدریس کیږی، چی په زده کوونکیو کی د الله جل جلاله د اطاعت احساس ژوندی و ساتی، زده کړه به یواځی د مسلکی علومو د زده کړی او لو ستلو پوری اړونده نه وی، بلکی په هره څانګه کی به اخلاقی او رو حی روزنه هم شامله وی.

چې ټولنې ته متقي او له الله جل جلاله ویریدونکې کار کوونکي وړاندي شي.

۲۲.د زده کړې په مراحلو کې به په تدریجي ډول هر مسلمان زده کوونکي د اسلامي عقایدو او اسلامي ژوندانه د ضروري احکامو او لارښونو په باب پوه ته تر لاسه کوي او د قرآن کریم له صحیح لو ستلو څخه به یې د مفهوم او معنی تر پو هیدا پوري د زده کړې لړۍ دوام مومي.

۲۳.د بیلا بیلو مسلکي او دیني علومو د زده کړې له پاره به د تحقیق او څیړنې مراکز پرانستل کیږي او د اسلامي علومو څیړنې ته به په پراخه پیمانه پاملرنه کیږي.

۲۴.داسي لارې چارې به غوره کیږي، چې د زده کړې د پراختیا کار آسانه کړي. او هیڅوک د وسایلو د نشتوالي له امله د زده کړې او تحصیل له دوام څخه بې بر خې پاتې نه شي.

۲۵.د هیواد په ګوټ ګوټ کې به د ښوونځیو تر څنګ دیني مدارس پرانستل کیږي.

۲۶.د نجونو او هلکانو د زده کړې له پاره به جلا جلا تعلیمي اداري پرانستل کیږي.

۲۷.په تعلیمي ادارو او مو سساتو کې به آزاده علمي فضا منځته راځي او پو هنتونونه به د تصویب شوي پالیسي له مخې به په پوره ډول خپلواکي ولري.

۲۸.د ښوونکیو او استاذانو له پاره به د ژوند ښه شرایط برابریږي، یعني د هوساژوندانه د تیرولوله پاره به ورته کافي معاشونه ورکول

کيږی،ترڅو دلوړی تعليمی سويی لرونکی شخصيتونه دی لوری ته تشويق شی.

۲۹.د ښوونکيو د اساسی روزنی له پاره به ځانګړی پاملرنه کيږی،چی له يوه پلوه ښه او پو هيدونکی استاذان شی اوله بلی خوا د زده کوونکيو د مسلکی زده کړی تر څنګ اخلاقی او معنوی روزنه هم وکړای شی.

۳۰.داستاذانو پردندوګومارلوکی به يوازی د هغوی علمی اسناد و ته نه کتل کيږی، لاچی دا به هم په نظر کی نيول کيږی، چی د افغانستان د بنسټيزو اسلامی اصولو مخالف نه وی او په اخلاقی لحاظ د نوی نسل د اخلاقی روزنی اهليت هم ولرين.

۳۱.ټول تعليمی نظام به په رسمی ملی ژبو پر مخ بيول کيږی، دا زيار به هم ويستل کيږی چی هر افغان ته لومړنی زده کړی دهغوی په مورنی ژبه ورکړل شی او د غير رسمی ژبو د ودی له پاره به لازمی لاری چاری په کار اچول کيږی، د عربی ژبی زده کړی ته به چی زموږ مسلمانانو د دين ژبه ده ځانګړی پا ملرنه کيږی.

۳۲.د علمی مراکزو مشران به داسی مسلکی شخصيتونه ټاکل کيږی چی د دينی پو هی پر ګاڼه سمبال او د دينداری نمونه وی، چی زده کوونکی ورڅخه عملی زده کړه وکړی.

۳۳.دګران هيواد د دفاع له پاره به عسکری ځواکونو ته د اسلامی جهاد، ثبات، استقامت، وفاداری پوهی او درايت منظم درسونه ورکول کيږی او د حربی تجهيزاتو ترڅنګ به په مجاهدانه اسلامی روحيه هم روزل کيږی، چی د ير غلګرو دلاس آله ونه ګرځی.

# څلورم فصل

## اداری نظام:-

زموږ له نظره تر هغه و خته پوری هیڅ ډول اصلاحی پروګرام ګټور کیدای نه شی. تر څو چی د هغی د تطبیق له پاره سالمه اداره له دنده پیژندونکیو، دیندارو او اهل شخصیتو نو څخه جوړه شوی نه وی، موږ دی هدف ته درسیدوله پاره لاندی پروګرامونه لرو:-

۳۴.له دولتی ادارو څخه به دبډی اخیستلو، ټګی او قانون ماتولو د مخنیوی له پاره اغیزمنی لاری چاری په کار اچول کیږی. داسی کړنلاره به غوره کیږی، چی په نتیجه کی یی د مامورینو ترمنځ دبډی اخیستلو خطرناکه ناروغی خپره نه شی.

۳۵.د هر لوړ رتبه مامور د ټاکنی پر وخت به د نوموړی او نږدی خپلوانو شتمنی تثبیتیږی او تر پای به یی څارنه کیږی، چی په شتمنی کی یی دومره زیاتوالی رانه شی، چی د روا او جایزو عوایدو سره یی زیات توپیر موجود وی.

۳۶.کوم مامورین چی د خپل معاش په پر تله په لوړه سویه ژوند اختیار کړی او یاڅه اضافی شتمنی تر لاسه کړی روا مدارک یی څر ګندنه وی، سمد ستی به تری پوښتنه کیږی او له اساسی څیړ نی وروسته به شرعی کړنه ورسره کیږی.

۳۷.یوه داسی اداره به منځته راځی چی د حکومتی مامورینو د ظلم او تیری او دوا کونو دبی ځایه کارولو مخه به نیسی او په دی باب به د هغوی پر خلاف د ولس شکایتونه اوری، د داسی ادارولە پاره به ځانګړی قوانین او لوایح تصویب کیږی.

۳۸.د رسمی ادارو دبی ځایه لګښتونو مخه به په کلکه نیول کیږی او ملی شتمنی به له بی ځایه لګښتونو څخه ساتل کیږی.
۳۹.دولتی مامورینو ته به د رسمی دندی داجراء پروخت تا کلی یو نیفورم په نظر کی نیول کیږی.
۴۰.د جرمونو د پلټنی پروخت به د ټولووحشیانه، ظالمانه او غیر قانونی کړنو مخه نیول کیږی.
۴۱.د خفیه پولیسو او جاسوسی شبکو بی ځایه کارول به بندیږی، دویری اچولو او وحشت فضا به له منځه ځی او دا شبکی به دبڼی خورو دولتی مامورینودڅارنی او جرمونو د مخنیوی په لارو چارو کی په کار اچول کیږی.
۴۲.په زندانونو کی به له بندیانو سره ټول ناوړه چال چلند له منځه ځی اوله اسلامی اصولو سره سم به پکی بدلون راځی، زندانونه به د مجرمینو د روزنی او اصلاح مرکزونه وی، چی هلته د شرافتمندانه ژوندانه د تیرولو اهلیت ترلاسه کړی.
۴۳.د مامورینو په میاشتینیو معاشونو کی به دومره ضروری زیاتوالی راځی، چی بهر نیوهیوادوته یی د تللو اندیښنه پای ته ورسیږی.
۴۴.عسکری خدمت به د مکلفیت د دوری په اساس تر سره کیږی، د خدمت په دوران کی به د عسکرو روزنی او اقتصادی حالت ته ځانګړی پاملرنه کیږی.
۴۵.د هیواد نظامی ځواک ته به داسی سالمه وده ورکول کیږی، چی د ګران هیواد د دفاع په برخه کی د یوه او سپنیز دیوال حیثیت

ولری او دی ته به ځانګری پا ملرنه کیږی، چی د استعماری قوتونو تراغیز لاندی رانه شی.

# پنځم فصل

## اقتصادی نظام:-

زموږ اقتصادی نظام به د اسلام په اساسی احکامو او څرګندو فقهی توضیحاتو ولاړوی.

داسلامی نظام اقتصادی سیاست پر دی اساسی موادو مشتمل دی:

۱.داقتصادی نظام په ټولو اړخونو کی د عدل او انصاف مراعات
۲.د ظلم، نارو‌ا او استثمار ټولی بڼی له منځه وړل.

۳.ولس ته د کارکولو او ګټی تر لاسه کولو یوشان مناسب شرایط برابرول.

۴.د لوږی او فقر پر ضد مبارزه او په دی لاره کی پوره کوښښ کول، چی د هیواد او سید ونکی د ژوندانه له طبعی حقوقو بی برخی نه شی.

۵.په ملی شتمینو کی عاملانه او عادلانه تصرف.

د پور تنیو اهدافو تر لاسه کولو له پاره زموږ پروګرام پر څلور بر خو باندی ویشل کیږی:

## لومړی: کرنه:-

زموږ په ګران هیواد کی له اوږدی مودی راسی کرنی او مالداری ته لازمه پاملرنه شوی نه دی، د دی نیمګړتیا د له منځه وړلو له پاره لاندی لاری چاری تر کار لاندی نیول کیږی.

۴۶.د مخدره توکو دکر، تولید او یا قاچاق پر خلاف به په کلکه مبارزه کیږی.

۴۷.دولتی ځمکی به بی ځمکی بزګرانو او هغو ځمکوالو ته چی له اقتصادی حد نه لږه ځمکه ولری ورپیا او یا په اسانو قسطونو ورکول کیږی او په دی باب به دلومړیتوب حق د نږدی سیمی خلکو ته په برخه وی.

۴۸.ټول هغه اسلامی قوانین چی د کرنی په باب ټاکل شوی وی، د هغو به په کلکه څارنه او پاملرنه کیږی او په دی لړ کی به ټولی غیر اسلامی لاری کا ملا له منځه وړل کیږی.

۴۹.تروسه وسه به زیارویستل کیږی، چی د دولتی ځمکو دویش پروخت هربزګرته دومره ځمکه ورکړل شی، چی د هغوی شرافتمندانه ژوند پری خوندی وساتل شی.

۵۰.هڅه به وشی چی د ځمکی خاوندانو ته د هغوی د حاصلاتو روا او معقول قیمت په لاس ورشی.

۵۱.بزګرانو ته به د کرنی له پاره ښه تخمونه او تخنیکی آلات او وسایل او کیمیاوی سری برابریږی.

۵۲.بزګرانو ته به له سود پرته پورونه په کومکی ډول ورکول کیږی.

۵۳.د ځنګلونو د پراختیا، ساتنی، ښه استعمال او له هغو څخه د مناسبو ګټو لاسته راوړ لوله پاره به لازم تدابیر نیول کیږی خود مالدارانو پر څړځایونو او د خلکو د ور ځنی ژوند د اړتیاو پوره کولو پر ځایونو به قبضه نه کیږی.

۵۴.د ځمکو حاصل خیزه برخی به په هغه صورت کی چی اقتصادی قوانین یی ونه غواړی، د صنعتی او نورو مقاصد و له پاره د استفادی وړنه گرځی.

۵۵.همدا راز به په هیواد کی د مالداری ودی ته پوره پاملرنه کیږی، د مالدارانو د تشویق له پاره به هغوی ته پوره آسانتیاوی برابریږی او د مالونو د څړ ځایو نو د ساتنی له پاره به لازم اقدامات کیږی.

۵۶.په هیواد کی د خوراکی موادو کموالی چاری به په لاندی لارو چارو سره کیږی.

الف:-د کرنی وړ هغه ځمکی چی بیکاره پرتی دی، ترکرنی لاندی به نیول کیږی.

ب:- شاړی ځمکی به آبادیږی او د کرنی له پاره به چمتو کیږی.

ج:-دویالو او بندونو د ویستلو او جوړولو له پاره به لازم کوښښونه کیږی، ترڅو چی بی اوبو حاصلخیزه ځمکی او د ښتی تر کرنی لاندی راشی.

د:-د خوراکی موادو د تر لاسه کولو په باب به داسی لازم تدابیر نیول کیږی، چی له یوی خوایی د گرانی او کموالی مخنیوی شوی وی او له بلی خوا یی کروند گروته د منلو وړ مناسب قیمت په لاس ورشی، او هم یی پلورونکی او پیرود ونکی په مناسب قیمت تر لاسه کړای شی.

ه:-د خوراکی او تجارتی مالونو ترمنځ به داسی انډول منځته راځی. چی په نتیجه کی یی د خوراکی تو کو کموالی رامنځته نه شی.

۵۷.په کليو کی به داسی لاسی صنا يعو ته وده ورکول کيږی چی دبی وزليو، کسب ګرو او هم د کروندګروپه عايداتو کی زياتوالی راشی.

## دويم:

### صنعت او تجارت:-

په هيواد کی به د متوازن اقتصادی نظام د پر مختګ او پراختياله پاره چی د اسلامی عدالت پر اصولو ولاړوی، لاندی تدابير نيول کيږی.

۵۸.سود،قمار،ناروا پيرودل، احتکار او دمال د ګټو ټولی هغه ناروا لاری چاری به چی اسلام حرامی کړی وی. په قانونی توګه له منځه ځی اويواځی به د شتمنيو دلاسته راوړ لو روا او حلالی لاری په رسميت وپيژندل شی، همدا راز د هغو شتمنو په باب به شرعی پريکړه کيږی، چی په غير شرعی لارو يی شتمنی تر لاسه کړی وی.

۵۹.د کمپنيو او بانکو نو نظام به داسی کسانو ته سپارل کيږی، چی د ګډون والو او بر خه لرونکيو ټاکل شوی استازی وی.

۶۰.وړو او محدودو شرکتونو له پاره به هم د پور ورکولوپه نظر کی نيولو ترځنګ د دوی د تشويق له پاره نور لازم اقدامات هم کيږی.

۶۱.د محصولاتود نر خونو په ټا کلو او تشخيص کی به حزب الله افغانستان داسی لاری چاری تراجراءلاندی ونيسی، چی نه يی استهلاک کوونکی او نه د فابريکو خښتنان زيانمن شی.

۶۲.دهیواد داخلی اړتیا و پوره کولو ته به تر هر څه زیات اهمیت او لومړیتوب ورکول کیږی.

۶۳.بانکی سیستم به هرومروله اسلامی اصولو سره سم د مضاربت او . تعاونی مرستو پر بنسټ اصلاح کیږی.

۶۴.ثقیله صنایع به منځته راځی او د کو چنیو صنا یو د انکشاف او پراختیا له پاره به لازم تدابیر نیول کیږی او په دی کار کی به د بهر نیو هیوادونو له تجربو نه ګټه اخیستل کیږی.

۶۵.موږ د دی پلوی یو چی د صنایعو د خپر اوی کار باید په مناسبو سیمو کښی وغزول شی او یواځی په یو ځوسیمو کی ځانګړی پاتی نه شی.

۶۶.د هیواد د صنعتی کولوپه ترڅ کی به کار او اړتیا ته تر سرمایی ډیر اهمیت ورکول کیږی.

۶۷.دولت به له خپلو داخلی فابریکو څخه پوره پوره ملاتړ کوی او د هغو شیانو په واردولوبه بندیز لګول کیږی، چی دهیواد دننه په کافی اندازه تولید یږی.

**دریم:-**

## د ټیټ رتبه مامورینو او کار ګرانو حقوق:-

۶۸.د معاش او سنی غیر عادلانه حالت به په تدریجی ډول اصلاح کړای شی او دابه تل په نظر کی وی، چی له وخت او شرایطو سره سم داړتیا وړشیانو بیی او معاشونه لړترلږه کفایت ترحده سره

متناسب وی، یعنی د بیود ښکته والی او پورته والی سره به د معاشو نو اندازه هم اصلاح کیږی.

۶۹.ټیټ رتبه مامورینو او ملازمینو ته به د هستوګنی،درمل او لاد د ښوونی او روزنی په لړکی مناسبی اسانتیاوی برابریږی. په ټولو صنایعو کی به د ما مورینو او کارګرانو د معاش په باب داسی ګامونه پورته کیږی، چی له پورتنیو شرایطو سره سره به د فابریکو په ګټه کی د بر خی څښتنان وی، چی د فابریکو د پر مختګ او غوره مالو نو په تیارولوکی یی دلچسپی زیاته وی.

۷۰.هڅه به کیږی چی د سرمایی او کار ترمنځ د جنجال په صورت کی به دروغی او پریکړی داسی اسلامی لاری چاری غوره کړای شی، چی له مخی یی انصاف او عدالت قایم کړای شی.

۷۱.حزب الله افغانستان به له کوچنیو ماشومانو څخه د کار اخیستلو نه ډډه کوی او د کو چنیا نو د مناسبی ودی له پاره به لازمی لاری چاری غوره کوی.

۷۲.د ښځو او نارینه و ګډ کار کول به منع او په دی باب به اسلامی اصول پوره پوره مراعات کیږی، البته د ښځو د کار حقوق به پوره پوره محفوظ وی.

۷۳.د ناروغتیا او هغو پیښنو په صورت کی چی کار ګران د کار په وخت کی له صحی او جسمی پلوه زیانمن شی،د هغوی د درملنی چاره به کیږی او په کوم حالت کی چی کار ګران د پیښنو په پا یله کی د

کار کولو توان هم له لاسه ورکوی، منصفانه بدله به ورکول کیږی، د تقاعد په حال کی به ورته تقاعدی معاش ټاکل کیږی.

۷۴.هر چاته به دا حق په برخه وی چی د خپلو روا حقوقو غوښتنه وکړی، حکومت به د شکایاتو د اور یدوکار پوره اسانوی.

# څلورم

## عام اقتصادی اصلاحات:

۷۵.حکومت به زکاتونه، صدقات، عشر.......راټولوی او په خپلو شرعی مواردوکی به یی لګوی او هغه ټول محصولات چی شرعی اساس نه لری، له منځه به وړل کیږی.

۷۶.د هیواد د اقتصادی پالیسی په ټا کلو کی به د خلکو منتخب استازی بر خه اخلی او د شوری تر تصویب وروسته به تر اجراء لاندی نیول کیږی.

۷۷.د دولت خزانه به له حرامو پانګو څخه پاکه او سوچه کیږی.

۷۸.په حرامو او ناروا لارو کی د ملی شتمنیو لګښت به جدا منع وی او

په اسراف او بی ځایه لګښتو نو به اساسی بندیز لګول کیږی.پر حکومتی نما یشی و دانیو به د بی ځایه لګښتونو څخه ډډه کیږی.

۷۹.هغه عوامل به چی د بیو د لو ړوالی او ګرانی وسایل برابروی، پای ته رسول کیږی.

۸۰.دلټی او بیکاری د پای ته رسولو له پاره به لازم کوښښونه کیږی.

۸۱.په ټیټه بیه به د دارو درملو چاره کیږی.

۸۲.د روغتونونو د پراختیا له پاره به لازم ګامونه پورته کیږی.

۸۳.له بیت المال څخه به ړندو، معیوبینو او بی وزلو ته کافی معاش چی د لباس او خوړو له پاره یی بسنه و کړی او ګدایی ته مجبورنه شی، په منظم ډول ورکول کیږی، او هم به د منظمی دینی روزنی لاندی نیول کیږی.

# شپږم فصل

## بهرنی سیاست

زموږ په بهرنی پالیسی کی به هم د داخلی سیاست په څیر د خپلو بنسټیزو اصولو پر بنا اساسی بدلون رامنځته کیږی او یو داسی سیاست به غوره کیږی، چی د دی هیواد پر بنیادی اصولو ولاړ او د دی اصولی غوښتنو تر سره کوونکی وی.

د حزب الله افغانستان بهرنی پالیسی په لاندی اساسی ټکیو مشتمله ده:

۸۴.موږ به د حق او عدالت د تحقق له پاره د مبارزی بیرغ او چت ساتو او له زور، ظلم، زیاتی سره به په کلکه مبارزه کوو، په معاملاتو کی به له رښتینولی نه کار اخلو، نورو ته به هم د صداقت توصیه کوو،خپلو ژمنو او تعهد اتوته به درناوی کوو.

۸۵.موږپه نړی کی د سولی او امنیت پلویان یو، چی د تحقق له پاره یی هیڅ ډول فداکاری نه سپموو. خو موږیوازی د جنګ نشتوالی ته سوله او امنیت نه وایو.له امنیت او سولی څخه زموږ مقصد دادی، چی په ګرده نړی کی حق او عدالت قایم شی، دا سی مساعده او آزاده فضامنځته



راشی، چی په هغی کی هیڅ ډول اختلافات او شخړی وجود ونه لری او

څوک د چاپه روا حقوقو تیری ونه کړای شی، د چادهوسایی او پر مختګ په مقابل کی بندیزونه منځته رانه شی، البته دی ستر هدف ته رسیدل هغه مهال کیدای شی، چی اسلامی نظام د ژوندانه د سمون او لاربنوونی له پاره عملا ومنل شی.

۸۶.موږ د استعمار، استثمار او استبداد ټولی بڼی په کلکه ردوو، استعماری نظام دعدل او انصاف پر خلاف کارګڼو او د ټولو شخړو او مخالفتونو اصلی لامل د استعماری ظلمونو شتون ګڼو.

۸۷.موږ ترهګری(تروریزم)په هر شکل او دهر چاله لوری چی وی،په کلکه غندو او جرړی یی له بیخه ایستل غواړو.

۸۸.موږبه له اسلامی اصولو سره سم د وروسته پاتی او مظلومو ملتونو اخلاقی او سیاسی ملاتړکوو.

۸۹.موږ د نړی له ټولو ملتونو سره د متقابلی همکاری اړیکی ساتل غواړو، ولی هیڅکله داسی تایید، ملاتړ، دوستی او تړون ته تیارنه یو، چی زموږ له اصولو او عقایدوسره مخالف وی او یاتری زموږ ملی ګټو ته زیان رسیږی او زموږپر آزادی او خپلواکی باندی ناوړه اغیزه وکړی.

۹۰.موږخپل هیواد د نړی دلویو استعماری حکومتونو له مسابقو څخه ساتل غواړو او په هیڅ یوه بلاک کی د شاملیدو غوښتونکی نه یو.



۹۱.په بین المللی مسایلو کی به هیڅکله دولت هغو پریکړوته درناوی ونه

کړی، چی په ځرګنده له اسلامی نصوصو سره مخالفت ولری.
۹۲.له اسلامی نړی سره د ورور ګلوی د دوستانه اړیکو قایمول غواړو او په دی لاره کی به هڅی وکړو، چی اسلامی هیواد ونه د مشترکواهداف په محور سره رانږدی شی.
په اوسنیو شرایطو کی د اسلامی نړی د ټینګښت او پایښت له پاره د عمل د احساس د راژوند کیدلو غوښتونکی یو. په لاندی مواردو کی اسلامی هیوادو ته یو ګډ وړاندیز کول لازم ګڼو.
الف:د اسلامی تهذیب او مدنیت د راژوندی کولو له پاره د ګډو او نه ستړی کیدونکیو هلوځلوتر څنګ دی د غیر اسلامی مدنیتونو د نفوذ او اغیز مخه په کلکه ونیول شی.
ب: د اسلام د سپیڅلیو اصولو او احکامو په رڼا کی دی د بشر د حقوقو رعایت وکړای شی.
ج:د اسلامی هیوادو ترمنځ د شخړو او لانجو د حل له پاره دی اسلامی بین المللی اداره جوړه شی.
د:اسلامی هیوادونو ته د تګ راتګ له پاره دی اسانه شرایط برابر شی.
ه: د اسلامی هیوادو تر منځ دی د مالی چارو او سود اګری د پراختیا له پاره کوټلی او اساسی ګامونه واخیستل شی،

**ومن الله التو فیق**